**د افغانستان پر وړاندې د پاکستان د پوځي تېري غندنه!**
**د حقوقپوهانو د سراسري ټولنې خبرپاڼه او بلنه**

## د حق او عدالت د خدای په نامه

د افغانستان د حقوقپوهانو سراسري ټولنه، د وطنپالنې د ايماني ارزښت پر بنسټ او د هېواد لوړو ملیګټو ته د ژمنتیا له مخې، د پاکستان وروستي پرله پسې هوايي بريدونه او د ننګرهار او پکتيکا پر ملکي مېنوبمبارد، چې زموږ د هېوادوالو د شهيد کېدو او ټپي کېدو لامل شوي، په ټينګه غندي او ناروا يې بولي.

دا پوځي تېرى د ملي واکمنۍ، ځمکنۍ بشپړتيا او د نړيوالو منل شوو هو کړو ښکاره ماتونه ده.

د (۱۹۷۰ م ) کال د لاهې د سولې د ناستې اسناد، د شيکاګو هوکړه،
او په ځانګړي ډول د ملګرو ملتونو د بنسټلیک د دويمې مادې دوهمه او څلورمه فقره، دا ډول تيری دبل هېواد پر و ړاندې ناروا بولي.

همدارنګه د نړيوالې عدالت او جزايي محکمې د بنسټلیک له مخې دا کړنه څرګند او سخت پوځي تېريګڼل کېږي.

د ملکي وګړو وژنه د جنيوا (۱۹٤۸ م ) د څلورګونو هوکړو له مخې جنګي جنايت او بشرى ضد جنايت بللکېږي.

د دې دښمنانه کړنې بياځلې ترسره کيدل نه يوازې د افغانستان د بې دفاع ولس پر وړاندې سخته تېروتنهده، بلکې دا ښي ي چې پاکستان د نړيوالو هوکړو او د افغانستان د ملي واکمنۍ درناوی نه کوي،
دغه ډول سپين سترګي او بېباکه کار د نړيوالو پټو ملاتړو له خوښې او هوکړې پرته نه شي کېدای.
د افغانستان د حقوقپوهانو سراسري ټولنه، د افغانستان او د هغه د وګړو استازې په توګه:
– د ملګرو ملتونو له امنيت شورا،
– د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالی کميشنرى ( OHCHR)
– د عدالت له نړيوالې محکمې ( I J C )
- د جزا له نړيوالې محکمې ( ICC )
– د بشري حقونو له ټولو بنسټونو،
او له نورو واک لرونکو نړيوالو ادارو غواړي چې د پاکستان دا کړنه د سولې پر ضد جرم، د سيمې دخونديتوب پر ضد ګواښ،
او د بشر ضد جنايت په توګه په پوره بېپلوۍ وڅېړي.

موږ باید د تعصب او کرکې پرته، په سړه سینه او د هېواد د ملي ګټو پر بنسټ ومنو چې:
د طالبانو توندلارې مشرې او د هغوی سختدریځ لاربشود، د هېواد لوړو ګټو ته په نه پاملرنې سره،افغانستان له روا او ځواب‌ورکوونکې دولت بې‌برخې کړی،
هېواد یې نړیوال ګوښه‌توب ته ټېل وهلی او د هوایي حریم له ساتنې بې‌وسه کړی،
چې همدې حالت د دې ټبري لاره هواره کړې ده.
د ځواکمن، روا، ملي او قانون‌پال دولت نشتوالی —
هغه دولت چې په نړیوال ډګر کې د افغانستان استازولي وکړي،
او د پاکستان د ټبري او د تاریخي دښمنانو د دسیسو پر وړاندې د ولس د حقونو ساتنه وکړي،
او پرې نږدي چې افغانستان د ترهګرو خوندي ځاله شي —
د اوسني ناوړه حالت بنسټیز لامل دی.

نو ګرانو هېوادوالو!

ویښ اوسئ! ځان خبر کړئ!
او پوه اوسئ چه د پاکستان د شیطاني لوبو نوی پړاو د نړۍ د زړو استعمارګرو له سترو موخو سرچینه‌اخلي.
که موږ پر کمزوري او تړلې فکر برلاسي نه شو،
که په پرانیستو سترګو او له وطن سره د مینې ډک زړه د پېښو ژوره شننه ونه کړو،
او که د هېواد او واکمنۍ ترمنځ توپیر و نه پېژنو،
نو د سیمې او نړۍ پدې ترینګلي حالت کې به څنګه د خپل ګران افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا ساتنه‌وکړو؟
افغانستان، چې د بهرنیو لاسوهنو او ټبریو له امله په ټبرو ځوځلوېښتو کلونو کې د نااعلان شوې جګړې اوترهګرۍ قرباني پاتې شوی،
نړیواله ټولنه — په تېره د امنیت شورا دایمی غړي — اخلاقي مسئولیت او مکلفیت ( Moral obligation) لري چې پرېنږدي چه زموږ هېواد بیا د سیمه‌ییزو او نړیوالو سیالو ځواکونو د نیابتي جګړو ډګر شي.

افغانستان، د ټبري او ترهګرۍ د قرباني هېواد په توګه، او د هغه کړېدلی ولس، د عادلانه او دوامدارېسولې او ثبات ، ق انون‌پال نظام او عدالت خپروونکي واک مستحق دی.
له همدې امله:
موږ د هېواد له ټولو ملي ځواکونو او آزادفکرو وګړو غوښتنه کوو چې د تاریخي دښمنانو د نوو شیطانیلوبو په دې پړاو کې د مور- وطن، ځمکنۍ بشپړتیا، د قانون واکمني او د خپل ګډ هېواد کلکه ساتنه وکړي.

پداسی حال کی چه موږ د طالبانو د واکمنۍ مدني مخالف په حیث
، د مور - وطن په نوم د افغانستانتاریخي او بد غوښتونکو دښمنانو یرغلګر پاکستان او پنجابی مارشالانو ته د شاعر دا وینا تکراروو:

دشمنت را همچو میخ خیمه می‌خواهم مدام!
تن به خاک و سر به سنگ و ریسمان بر گردنش

او هغوی ته د ملي شاعر ارواښاد مجروح دا ټکي هم وریه یادوو:

ټیټ مې مه بوله، غورځنګ راباندې مه کړه
زه په دې افتادګۍ کې لوی کړنګ یم

**په درنښت**
**د حقوقپوهانو د سراسري ټولنې د اجرائیه هیئت ، په استازیتوب**
**میر عبدالواحد سادات - د ټولنې مشر**
ژباړه: څارنوال سیما سیدزۍ سادات